مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۳/۲۶

# د مینی بهار!

پسرلی دی مبارک وی تول جهان ته
په جهان کی هر وګړی د افغان ته

هیله من یم چی دی ښکلی پسرلی کی
را پیـدا کړمه تنـی خیری ګریوان ته

غوارم ولرم ځلویښت زره لاســونه
چی را تول کړمه ګلونه پری جانان ته

هومره جوړی د ګلونو بستری کړم
چی اغزی چیری و نه رسی انسان ته

و توکیـږی محبت په هر چمـن کــی
د نفرت دروازې بندی شی بوستان ته

ښرل شوی په رنګ رنګ خپلوکوخونه
ورسـتانه شی بیرته لوی افغانسـتان ته

زورور نه د کمزوری ویره نه وی
باز او زرکي ګډی والوزی آسمان ته

دا نــړی لکه یـو کلــی کلــیوالــه !
یو بدن شی یوه خوله شی یو ارمان ته

دا بهــار به شی د میني بهـار هــلـه
چی ورغاړه هرجانان شی خپل جانان ته.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ